مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حبیب الرحمن رحیمی ۲۰۲۲/۰۸/۱۸

بې غږه

(لنډه کیسه)

د نې یا د اونۍ پیلیزه وه چې روښان تر زیات کاري فشار لاندې وو، لاره هم اوږده او له ګڼې ګوڼې ډکه وه خوهغه هم په داسې حال کې چې په لږ ناوختۍ سره به یې آمر غوصه په ډېره سختۍ سره زغمله ، تر راتک مخکې به غوښتنوالو د دفتر مخکې شګې شمېرلې او د نیوکو بنډاربه یې تود ساتلې وو ،کاري ځانګې ته په رسېدو به یې زیاتره وخت خپل موبایل هم بې غږه وو څو په وخت د کلیو او باندو خلکو غوښتنو ته په وخت رسېدنه وشي نو دوستانو یې هم دا درک کړې وه چې له غرمې وروسته په څلورو بجو کې زنګ ته ځواب ورکوي خونن په همدې وخت ورته اته پیغامه په دې بڼه چې د تبسم کلیزه د بختوره وي راغلي وو لایې دا ټول لوستي نه وو چې د موبایل پاڼه واوښته او د بونګېدو غږ ترې اوچت شو هو کې په تنۍ ته په زور ورکولو سره یې دا غږ تر لاسه کړ.

سلام ، د لور کلیزه د بختوره شه ،مابنام مهال یې د لمانځلو نیت لرو؛ په همدې موخه ستاسو د راتلو په تمه یو، او هېره د نه وي چې کېک، شمعې او نور هرڅه چې په کاریږي درسره راوړې

نور یې پام جیب ته شو تر هرڅه مخکې یې خپلې پیسې وشمېرلې ، څه یې پور کړې ، ژمې وو ، هوا پوره تیاره وو ، د لمابنام لمانځه ته وخت پاتې نه وو ، د کور په لور یې خپل قدمونه را ګړندي کړل ، د خپلې کلا ته په ورختو پېچومي کې چې واورې په کې ختې جوړې کړې وې؛ څه ښه وایي:

«د لمدې ختې لږ اوبه دارو وي»

دلته نو تیاره، ستړیا ،پېټی او چیکړې هم ورسره مل وې له غورځېدو وروسته به یې زر ځان راسره راټول کړاو نور دا پیغام د هرې ټوټې سره ټوټه وو چې د «زوکړې ورځ د نېکمرغه وي.»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ